مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۹مه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۱۷مه | ۶۸۲یمه گڼه


# له نښتو او بریدونو سره هممهاله؛

## طالبان وايي، جګړه د حل لار نه ده، امریکا دې پر هوکړه عمل وکړي



۳

که ناټو د ځواکونو د پاتې کېدو اعلان وکړي؟

۲ مخ

سرېږي پسرلني اختر

۲ مخ

کوم هېوادونه د کرونا واکسین بهیر کې مخکې دي؟

۳ مخ

## کاټسکي: د دوحې تړون نقض به امریکا په نړیواله کچه بې اعتباره کړي

امریکا دې د دوحې هوکړې په ماتولو ځان په نړیواله کچه نه بې اعتباره کوي. مشهور امریکایي مبصر تېلر کاټسکي نیوزویک نشریې ته په یوه لیکلې مقاله کې ویلي، چې بایډن باید د دوحې هوکړې ته ژمن پاتې شي او د مې تر میاشتې دې خپل سرتېري له افغانستانه وباسي.

د نوموړي په خبره، که امریکایي لورى پر خپله هوکړه عمل ونه کړي، نو دا به امریکا په نړیواله کچه بې باوره کړي؛ ځکه دغه هېواد تر دې وړاندې له ایران سره اټومي هوکړه ماته کړې او اوس به له طالبانو سره د دوحې هوکړه ماتوي.

تېلر همدا راز وايي چې بایډن باید له افغانستان خپل سرتېري وباسي او په وینا یې، که دا کار ونه کړي، نو ښايي امریکایي ځواکونه په یوه بله بې پایه جګړه کې ښکېل شي او دا به په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د جګړې لپاره د سیمې د هېوادونو مداخلې ته زمینه برابره کړي. نوموړی د افغان جګړې د حل یوازینۍ لار د سولې خبرې مخ ته بېول او له افغانستان د سرتېرو ایستل بولي.

دا په داسې حال کې ده چې بایډن اداري ویلي چې دوی به د ټرمپ د اداري او طالبانو ترمنځ پر شوې هوکړه له سره غور وکړي او وروسته به په دې اړه خپل دریځ اعلان کړي.

## زموږ لومړیتوب دا دی چې افغانستان بیا د ترهګرو پر ځاله بدل نه شي



۵ مخ

کتاب
۴ مخ

## الله تعالی ته لار



دغه کتاب خدای ته د لار موندلو یو عملي لارښود دی. دغه لارښود کې له قرآن څخه ګټه پورته شوې، له نبوي احادیثو څخه استفاده شوې او د الله تعالی د اولیاوو له مجربو نسخو او تجربو څخه استفاده شوې ده.

## کرنې ریاست: روان کال په ارزګان کې ۷۴ پراختیایي پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې



د ارزګان ولایت د کرنې ریاست چارواکي وايي چې په دغه ولایت کې نږدې ۷۴ پراختیایي پروژې پلي شوې دي.

یاد ولایت د کرنې رییس انجنیر احمدشاه خیري ویلي چې دغه ریاست په ۱۳۹۹ مالي کال کې د کرنیزو محصولاتو د مدیریت د پروژو ترڅنګ نږدې ۷۴ پراختیایي پروژې پلې کړې دي.

نوموړي زیاته کړې په دغو پروژو کې د پیازو او کچالو صفر درجې زېرمتونونه، د مڼو او انارو سړې خونې، نوي بڼونه، د نیالګیو قوریې جوړول، د اصلاح شویو تخمونو وېش، د حیواني او نباتي ناروغیو مخنیوی، بزګرانو او مالدارانو ته روزنیز پروګرامونه او عامه پوهاوی شامل دي.

خیري ویلي، چې په ۱۳۹۹یم کال کې دوی یو زر او ۲۴۰ جریبه نوي بڼونه جوړ کړي دي. هغه زیاته کړې، چې د یادو پروژو په پلي کېدو سره د ارزګان ولایت د کرنې په سکټور کې د پام وړ بدلون رامنځته شوی او ترڅنګ یې ګڼو خلکو ته اوږدمهال او لنډمهالې دندې برابرې شوې دي.

## گزارش‌ها: طرف‌های درگیر برای جنگ در بهار پیش رو آماده‌گی ها گرفته‌اند





در حالی که صلح با طالبان، از داغ ترین بحث‌های امسال بوده؛ اما گزارش‌ها می رسانند که طرف‌های درگیر، برای جنگ در بهار پیش رو، نیز آماده‌گی هایی گرفته‌اند.

مقام‌ها در برخی از ولایت‌ها تائید می کنند که نیروهای دولتی، رویارویی های احتمالی را با طالبان در فصل گرما، در برنامه‌های شان دارند.


طالبان هنوز در این باره چیزی نگفته اند؛ اما وزارت دفاع ملی، جنگ را بیشتر به زیان طالبان می داند.

کندز، بغلان، ارزگان، کندهار و هلمند از ولایت‌هایی استند که در هفته‌های اخیر یا از جابه‌جایی طالبان در اطراف مراکز این ولایت‌ها و یاهم از تحرکات این گروه در شاهراه‌های انجامیده به این ولایت‌ها، خبرهای پخش شده‌اند. در این میان، شاهراه‌هایی که از کابل به ولایت‌های دیگر می‌انجامند، نیز گواه ناامنی‌ها و یا هم حضور گاه‌گاه طالبان بوده‌اند.

در این میان، وزارت دفاع ملی تأکید می‌ورزد که طالبان با تمایل نداشتن به صلح با دولت، خودشان ضرر خواهند کرد.

روح‌الله احمدزی - سخنگوی وزارت دفاع ملی گفت: «اگر گزینه ادامه خشونت‌ها و جنگ را انتخابات کنند، اشتباه بزرگی خواهند کرد و از سوی نیروهای قهرمان دفاعی و امنیتی کشور که همیشه آماده دفاع از مردم و خاک خود استند، با شکست شدیدی روبه‌رو خواهند شد.»

نگرانی‌ها از افزایش خشونت‌ها در فصل گرما، در اوضاعی اوج گرفته‌اند که امسال چند ولایت کشور در فصل سرما نیز گواه نبردها بوده‌اند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# که ناټو د ځواکونو د پاتې کېدو اعلان وکړي؟

ټاکل شوې د ناټو غړي هېوادونه د نورو مسایلو تر څنګ له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو پر وتلو هم بحث وکړي. د امریکا او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې پر اساس ټول بهرني ځواکونه باید تر راتلونکې مې میاشتې پورې له افغانستان څخه ووځي، خو ناټو بیا بیا داسې اشاري کړي چې ګواکې ځواکونه به یې تر مې میاشتې وروسته هم په افغانستان کې وي او شرایطو ته په پام سره به له افغانستان څخه وځي. اوس به ناټو په دې اړه رسمي پرېکړه کوي، چې ځواکونه به یې له افغانستان څخه وځي او که څنګه، خو اټکل دی چې ناټو به ووایي چې د وتلو لپاره نېټه نه ټاکي او نه یې مراعاتوي، بلکې دوی به شرایطو ته په پام سره له افغانستان څخه ووځي.

اوس که ناټو همدا پرېکړه وکړي چې ځواکونه به یې تر مې میاشتې پورې ونه وځي، نو پوښتنه دا ده چې څه به پېښېږي؟

دلته دوه حالتونه دي. یو دا چې د ځواکونو پاتې کېدل له طالبانو سره د نوې هوکړې پر اساس وشي، بیا ښایي کومه جګړه رامنځته نه شي. د دې شونتیا شته چې امریکا طالبانو ته امتیازات ورکړي او په بدل کې یې ترې وغواړي چې څو میاشتې نور هم د ځواکونو حضور ومني. که څه هم طالبانو ویلي چې بهرني ځواکونه باید تر مې میاشتې ووځي او که ونه وځي، دوی به پرې بریدونه وکړي، خو په سوله کې د طالبانو لاسته راوړنو او ګټو ته په کتو، د یوې معاملې شونتیا نه شي ردېدلی. دویم دا چې که له طالبانو سره له هوکړې پرته د ځواکونو پر حضور ټینګار وشي او طالبان یې رد کړي، نو سخته او خونړۍ جګړه به وشي.

خو پوښتنه دا ده چې جګړه به څه ډول وي؟

که څه هم طالبانو ویلي چې که بهرني ځواکونه ونه وځي، بریدونه به پرې وکړي، خو که جګړه بیا ګرمېږي، نو بیا به هم لویه برخه زیان افغانانو ته اوړي او بهرني ځواکونه به تر ډېره خوندي وي. بهرني ځواکونه کم شوي، په خپلو اډو کې خوندي دي، د باندې نه راوځي، نو ځکه به پرې کم بریدونه وشي. ان که طالبان د دوی پر مرکزونو هم بریدونه وکړي، له دې امله چې هغوی په خپلو اډو کې دي او هلته پراخ دفاعي امکانات لري، بیا به هم هغوی ته ځاني زیانونه کم وي. له دې سره به د طالبانو د جګړې ټول فشار پر حکومت وي. طالبان به نه یوازې په ښارونو کې لوی بریدونه وکړي، بلکې د ولسوالیو، ښارونو او ولایتونو د پوره لاندې کولو هڅې به وکړي او ځینې ولایتونه به لاندې هم کړي. په دې ډول به د بیا پیل کېدونکې جګړې قربانیان، حکومتي ځواکونه، طالبان او ملکي وګړي وي، چې ټول افغانان دي، خو بهرني ځواکونه به په اډو کې خوندي وي او کم زیان به ور اوړي.

هغوی چې د سولې په پروسه کې یې خنډونه جوړ کړل، د بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو لپاره یې هڅې وکړې او ویې نه غوښتل چې بین الافغاني خبرې بریالۍ شي، د دې راتلونکې جګړې مسوولیت یې پر غاړه دی. د دې تر څنګ د بهرنیو ځواکونو پاتې کېدل به بیا هم د جګړې اصلي لامل وي او هر افغان باید پر دې تمرکز وکړي چې هېواد له بهرنیو ځواکونو پاک کړي او د جګړې اصلي لامل ختم کړي. له بله اړخه تر هغو چې موږ افغانان خپلې ستونزې خپله حل نه کړو، همداسې به هم په جګړه کې وو او هم به بهرني ځواکونه دلته حضور ولري.



# سړنې پسرلنی اختر

لیکنه: زرینه
د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

جو تاو د چین د هه بې ولایت اوسېدونکی دی، نوموړی کابو لس کاله کېږي، چې په بېجینګ کې کار کوي او همدلته له خپلې مېرمنې او دوو ماشومانو سره د ژوند شپې او ورځې تېروي. نوموړی هر کال پسرلنی اختر خپل ټاټوبي ته وړي او هلته یې له خپلو خپلوانو او کلیوالو سره یو ځای لمانځي، خو سږ کال یې له خپلې مېرمنې سره پرېکړه وکړه، چې سړنی پسرلنی اختر په بېجینګ کې ولمانځي او همدلته پاتې شي.

نوموړي وویل، دولت خلک هڅوي چې د کرونا وبا د وقایې لپاره د پسرلني اختر په موده کې په خپلو ځایونو کې پاتې شي او د کار په ځای کې اختر ولمانځي. زه له دولت ملاتړ کوم، زه او کورنۍ به مې په بېجینګ کې پاتې شو. ډېر ملګري مې همدلته پاتې دي، نو د اختر په موده کې به د یوازیتوب احساس ونه لرو، خو د افسوس وړ خبره دا ده ،چې له پلار او مور سره به ونه ګورم، خو بیا هم له دوی سره هره ورځ وېډیویي خبرې کوم، نو دومره ستونزه نشته.

ډېرو چینایانو د ښاغلي جو په څېر انتخاب کړی او په خپلو ځایونو کې پاتې شوي دي. دوی دا انتخاب په اسانۍ نه دی کړی، ځکه پسرلنی اختر یاني نوی کرنیز کال د چینایانو لپاره تر ټولو مهم دودیز اختر دی او زیاتره چینایان د دې اختر د لمانځنې لپاره خپل ټاټوبي ته ځي او له خپلو کورنیو سره یې یو ځای لمانځي، نو د هر کال د پسرلني اختر په موده کې په چین کې ټرانسپورټي شبکه تر ډېر فشار لاندې وي او دغه وخت په نړۍ کې د انسانانو تر ټولو ډېر تګ راتګ په همدې هېواد کې وي.

چین په تېر ۲۰۲۰ کال کې تر نورو وړاندې په خپل هېواد کې کرونا وبا ښه کنټرول کړې او د نړۍ یوازینی هېواد دی، چې په اقتصادي وده کې یې زیاتوالی موندلی دی. د دې تر څنګ، چین د کرونا وبا پر وړاندې مبارزه کې ډېرې تجربې لري، نو ځکه د دې هېواد په هر ځای کې چې د کرونا مثبتې پېښې پکې زیاتې وي، ډېر ژر یې تر کنټرول لاندې راولي. د وبا ضد جدي او اغېزمن اقدامات او له دولت سره د عامو خلکو همکارۍ په دغه هېواد کې د وبا د ښه کنټرولېدو مهم لامل ګڼل کېږي. دولت ځکه خلک هڅوي، چې سړنی پسرلنی اختر په خپلو ځایونو کې تېر کړي، چې د کرونا وبا پر وړاندې د مبارزې بریا وساتي. د دولت دې غوښتنې یوځل بیا د خلکو ملاتړ تر لاسه کړی دی.

سږ کال د اورګاډو په سټېشنونو او هوایي ډګرونو کې د مسافرین د پخوا په پرتله ډېر کم ښکاري. د چین ټرانسپورټي اداري وړاندوینه کړې، چې د سړني پسرلني اختر په موده کې به د مسافرینو شمېر د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۲۰ سلنه کم وي. یوه سروې هم ښیي، چې تر ۷۷ سلنه ډېرو کارکوونکو پرېکړه کړې، چې د مزدورۍ په ځایونو کې به پاتې او پسرلنی اختر به ولمانځي.

هوانګ جیوان د چین د شمال هې لونګ جیانګ ولایت اوسېدونکې ده او اوس په بېجینګ کې په یوه شرکت کې کار او ژوند کوي. نوموړې د تېر کال د وروستۍ اونۍ په پای کې یوه سوپر مارکېټ کې د پسرلني اختر د لمانځنې په پار شیان واخیستل. نوموړې وایي، ما همدلته اختر تېر کړ، کومه ستونزه نه لرم، زه کولی شم له خپلې کورنۍ سره وېډیویي خبرې وکړم او دوی ته د اختر مبارکي ووایم. نن مې مېوې او د ژوند اړین توکي واخیستل، بیه یې مناسبه او له عادي وخت سره برابره ده، ما ډېر توکي واخیستل او د اختر په موده کې به یې وکاروم.

د اختر په موده کې د خلکو د ژوند لپاره په بازارونو کې د کافي مالونو عرضه او د توکو ثابتې بیې ډېرې مهمې دي. د چین حکومت او تصدیو په دې برخه کې ډېر چمتووالی نیولی دی. د چین د دولت رییس شي جین پینګ له پسرلني اختر مخکې د دغه هېواد له ګوی جو ولایت څخه د لیدنې پر مهال یوه سوپر مارکېټ ته ورغی او هلته یې د توکو د بیو وضعیت له نږدې وکاته.

د چین حکومت د تګلارو په رڼا کې د ډېرو ځایونو اوسېدونکو ته د اختر په موده کې د ژوند اسانتیاوې برابرې شوې دي. د بېلګې په توګه، ډېرو مغازو خلکو ته د توکو اخیستلو پر مهال تخفیفونه اعلان کړي، حکومتي ادارو له خلکو سره د کور کرایو کې مرسته کړې، مخابراتي شرکتونو مشتریانو ته د انټرنېټ کاروني وړیا کڅوړې اعلان کړې، تصدیو خپلو کارکوونکو ته د اختر د تېرولو لپاره پیسې ورکړې او باغونو ته د تلو لپاره یې خلکو ته ټکټونه ډالۍ کړي دي.

د بېجینګ اوسېدونکې اغلې ګوه وایي، زه په یوه حکومتي اداره کې کار کوم، زمونږ اداري خپلو کارکوونکو ته د فلمونو ټکټونه ورکړې او هغو کارکوونکو ته چې ودونه یې نه دي کړي، خوراکي توکي ډالۍ کړي، چې پکې د (جیاو ځه) او (مان تو ) په نوم دودیز خواړه او غوښې هم شاملې دي، څو دوی د پسرلني اختر په رخصتیو کې ښه ډوډۍ وخوري.

د مېرمنې ګوه خاوند وایي، د بېجینګ ټول دولتي باغونه د ښاریانو پر وړاندې وړیا پرانېستل شوي، نوموړی دربو باغونو ته د تګ اراده لري او کورنۍ سره به په ګډه له باغونو سیل وکړي. نوموړي وویل، زما په اند دا ډول اقدامات ډېر ښه دي، ځکه د خلکو اړتیاوې پوره کوي او په دې سره موږ په خپلو ځایونو کې له اختر څخه خوند اخیستلی شو.

# په جمهوریت او امارت کې ګیر ولس

لیکوال: بخت الله بیان

افغانان له څلورو لسیزو څخه زیات د جنګ کرغېړنه تجربهویني، چې په دې غمیزو کې یې یو نسل د جنګ او جګړې د باروتو په تورو لوخړو کې له منځه لاړ او دویم نسل یې هم عملاً د جنګ تریخ حقیقت تجربه کوي. د همدغو جګړو په پایله کې مو دوه نسلونه د پوهې، مدنیت، روغتیا او د نوې ټکنالوژۍ له دور څخه ډېر شاته پاتې شول. همدغو جنګونو او جګړو مو ماشومان او ځوانان ذهناً او روحاً ناارامه او فکرونه یې د جنګ کرغېړنې څپې منزوي او محشوشه کړل. ځوانانو مو د ژوند د اساسي کارونو پر ځای پر نورو او د پردیو په اشاره او لمسون بې هدفه مزل غوره کړ، د سیمو هېوادونو هم د دوی له ځوانۍ څخه د یوه سپر په توګه کار واخیست. د ښوونځي، پوهنځي او مدرسې پر ځای یې پر داسې ناوړه لارو روان کړل، چې په پایله کې همدوی خپله لار ورکه کړه او په ناسمه لار ببرته د دښمن په لومو کې ورلوېدل.

شومو دښمنانو دوی ته د انسانیت پر ځای وحشت، د دوستۍ پر ځای دښمني او له خپل هېواد سره د مینې پر ځای یې د خپل هېواد ورانول ور زده کړل. نوي ځوانان چې د ځوانۍ په نشه کې مست وو، په خپلو ځانګړو روزنځایونو کې د هېواد پر ضد وروزل او بیا یې د هېواد پر ضد استعمال کړل، چې په پایله کې هېواد ته جنګونه، وحشتونه، بربریتونه او مرګونه په برخه شول او څلویښت کاله یې افغانان په خپلو کې سره په جګړه کړل. دوی ورته د یوه لوبغار په توګه وکتل او د افغانانو له جنګ او وژلو څخه یې خوند واخیست.

له بل لوري ملکي وګړي چې د جګړې په لومړۍ کرښه کې راګیر دي، تل د دواړو لوریو لخوا ګواښل کېږي، تهدیدېږي او وژل کېږي. د دوی له کورونو او کلیو څخه پټنځایونه جوړ شوي او د سپر په توګه ورڅخه کار اخلي، چې دې کار د ملکي وګړیو ژوند تریخ کړی او د مرګ او ژوبلې په شمېر کې یې هم د پام وړ زیاتوالی رامنځته کړی.

په دې وروستیو کې په هېواد کې د ننه جګړې دومره خونړۍ بڼه غوره کړې، چې په خپل وخت کې بې‌ساري بلل شوې ده.

د ملکي وګړو د نه خوندیتوب له امله حقوقو بشر، د افغانستان لپاره د مرستندویه اداري یا یوناما او هم داخلي چارواکو خپلې اندېښنې ښودلې دي. په دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې له لاسلیک وروسته افغانانو تمه درلوده چې په هېواد کې روانه خونړۍ جګړه به د سولې او اوربند په رامنځته کېدو سره بنده شي او یا به هم لږ تر لږه د اوسنۍ جګړې په ګراف کې د ټیټوالي لامل شي، خو د میاشتو په تېرېدو د افغان سولې بهیر نه یوازې پخ او بې برخلیکه پرمخ روان دی، بلکې یادې چارې د سولې په پروسه کې نوي درزونه هم راپیدا کړل.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مرستیال او د سولې مرکچې پلاوي غړي عباس ستانکزي په مسکو کې یوې خبرې غونډې ته ویلي وو، چې «د سولې پر وړاندې یوازینی خنډ ولسمشر محمد اشرف غني دی او که غني استعفا وکړي، د اوربند او سولې خبرو راتګ حتمي دی.»

خو ځینو سرچینو بیا ویلي چې د ننه په هېواد کې ځینې سیاسیون د موقت حکومت نغاره هم ډنګوي او دوی بیا د موقت حکومت غوښتونکي دي.

خو د ولسمشر مرستیال ویاند دواخان مینه پال بیا د هغو څرګندونو په غبرګون کې ویلي، چې «د ولسمشر دوره اساسي قانون ټاکلي ده او ولسمشر محمد اشرف غني به د خپلې پنځه کلنې دورې تر بشپړېدو وروسته واک هغه چا ته وسپاري، چې د افغانانو د رایو پر اساس وټاکل شي.»

دغو څرګندونو په ټولنیزو رسنیو کې هم یوه لویه غوغا جوړه کړه، ځینې په جمهوریت، ځینې بیا د موقت حکومت او ځینې نورو بیا په امارت کې خپل ځانونه ویني. د هرې یوې ډلې او پلویانو بلې ته په ښکنځلو او بد رد ویلو خوله خلاصه کړې وه.

اوس که د دواړو لوریو لخوا د سولې فضا همدغسې خړه پړه وي؛ دا به نه یوازې دا چې د دواړو لوریو دا ډول څرګندونې به د سولې روان بهیر ته زیان واړوي، بلکې پر دغه ملي پروسه ښایي منفي سیورۍ هم وغوړوي او یا یې هم په بشپړه توګه زیانمنه کړي. دا ډول ناوړه چاره کولای شي، څو د بین الافغاني مذاکراتو په بهیر کې نویو درزونو، خنډونو او نویو بن‌بستونو د رامنځته کېدو لامل شي.

پکار دا ده چې د روانې خونړۍ جګړې چې زور یې ټول له ملت خېژي، د حل لپاره یو صادقانه ګام واخیستل شي. ښکېل اړخونه له خپلو غوښتنو تېر شي او نور د خدای لپاره په دغه ځورېدلي ولس رحم وکړي. که ښکېل اړخونه د خپل ولس د برخلیک پر ځای د نورو ګټو ته لومړیتوب ورکوي او خپلې ګټې د نورو په ګټو کې خونديویني، دا ارمان یې نیمه خواه دی، هېڅکله به یې دا ارمان پوره نه شي، دا هرڅه زموږ تاریخ ثابت کړي.

په هېواد کې د یوې تلپاتې سولې او ثبات په هیله!

# کوم هېوادونه د کرونا واکسين بهير کې مخکې دي؟

بي بي سي- پښتو

کله چې د کرونا واکسين خبره کېږي، نو تر ټولو مهمه پوښتنه دا وي چې کله به خلکو ته رسېږي؟ ځينو هېوادونو د خپلو وګړو واکسينولو پروګرام پيل کړی، خو ډېرو هېوادونو کې وضعيت لا هم روښانه نه دی.

د بي‌بي‌سي په دې رپوټ کې په ډاګه شوې چې د نړۍ کوم هېواد د واکسيناسيون بهير کې تر نورو مخکې دی.

خو د وګړو واکسينولو بهير دومره ساده هم نه دی. په اصل کې دا يوه پېچلې پروسه ده چې حکومتونه، نړيوالې ادارې او ساينسي بنسټونه پکې ښکېل دي.

يوه خبره ښکاره ده چې د امريکا او برېټانيا په څېر شتمن هېوادونه د دې کتار په سر کې او تر نورو مخکې دي.

کاناډا او د اروپايي ټولنې هېوادنه دويم ځای لري، خو لکه څنګه چې اټکل کېدلی شي، بې‌وزله او د درېيمې نړۍ هېوادونه تر ټولو وروسته پاتې دي. البته ځينې داسې هېوادونه هم شته چې د واکسيناسيون بهير يې ښه روان دی.

کاناډا په لومړيو کې له اروپايي ټولنې د خپل نفوس پنځه برابره واکسين واخيست، ځکه وېره يې درلوده چې د امريکا پخوانی ولسمشر ډونالډ ټرمپ ښايي امريکايي واکسين ورنه کړي.

خو خبره سرچپه شوه، امريکا کې د واکسين کمی نشته، خو اروپايي ټولنه يې له کمښت سره مخ ده او ښايي نورو هېوادونو ته يې صادرات کم کړي. نو په دې مانا چې د کاناډا سودا سمه نه وه.

د سربيا په څېر هېواد کې هم د واکسيناسيون بهير تر اټکل ښه روان دی. دا ځکه چې دې هېواد هم له روسيې سپوټنېک او هم له چين څخه ساينوفام واکسين تر لاسه کړی. دليل يې (د واکسين ډيپلوماسي) ده، په دې مانا چې چين او روسيه دواړه سربيا کې سياسي نفوس غواړي او سربيا له دې حالته ګټه اخيستې او له دواړو هېوادونو څخه يې واکسين تر لاسه کړی.

د چين ساينوفام واکسين په متحدو عربي اماراتو کې هم اتيا سلنه وګړو ته ورکول کېږي، بلکې چين هلته د دې واکسين د توليد فابريکه پرانيستې او روزل شوي کارکوونکي يې ور استولي دي.

خو که يو هېواد د واکسين تر ټولو لوی توليدوونکی وي، دا په دې مانا نه ده چې وګړي به يې تر نورو هېوادونو ژر واکسين شي.

څېړنې ښيي چې د هند او چين په څېر هېوادونو کې د ټولو وګړو واکسينول ښايي ډېر وخت ونيسي او دليل يې دا دی چې دواړه د نفوس له پلوه خورا لوی هېوادونه دي.

د روغتيا نړيوال سازمان، د واکسين نړيواله ټلواله (ګاوي) او د وباو لپاره د چمتووالي مرکز د (کوواکس) په نامه يو پروګرام چمتو کړی، چې د نړۍ هر هېواد ته به د واکسين ورکړه تنظيموي.

بې‌وزلو هېوادونو ته به د يو ځانګړي فنډ يا بوديجې له لارې په وړيا توګه واکسين ورکول کېږي، خو شتمن هېوادونه به يې په خپلو پيسو اخلي، البته په ارزانه بيه.

يوه ستونزه دا هم ده چې ځينې هېوادونه پر ځای د دې چې د (کوواکس) پروګرام له لارې واکسين تر لاسه کړي، پخپله له توليدوونکو سره مخامخ اړيکه نيسي.

د دې کار تاوان دا دی چې واکسين ورته ګران تمامېږي. د بېلګې په توګه، يوګانډا اعلان کړی چې د هند له (سيرم انسټېټيوټ) نه يې ۱۷ ميليونه ډوزه واکسين اخيستی او د هر ډوز بيه ۷ ډالره ده.

خو که همدا واکسين د (کوواکس) پروګرام له لارې اخيستل شوی وای، نو هر ډوز به ورته په ۴ ډالره تمام شوی وای.

خو پخپله د (کوواکس) پروګرام په اړه هم ځينې نيوکې شته. يوه ستونزه دا ده چې د روغتيا نړيوال سازمان دا پروګرام د واکسين له ډېرو توليدوونکو سره پر خبرو او معاملو بوخت دی، چې ورسره د واکسين د وېش لړۍ پېچلې شوې ده.

اروپايي ټولنه هم ورته ډېره هيله نه لري، او اټکل کوي چې دا پروګرام که بريالی هم شي، نو يوازې به د نړۍ له شلو تر ۲۷ سلنه وګړي واکسين کړای شي.

داسې اندېښنې هم شته چې ځينو هېوادونو ته ښايي ان تر ۲۰۲۳ کاله هم واکسين ونه رسېږي او يا يې ښايي بېخي تر لاسه نه کړي.

بله دا چې د ځينو هېوادونو لپاره واکسين اصلاً لومړيتوب نه دی، په ځانګړې توګه هغه هېوادونه چې ځوان نفوس لري او کرونا وبا پکې ډېره نه ده خپره شوې.

په هر حال، په نړۍ کې د واکسين توليد تر پخوا په چټکۍ روان دی، خو د ځمکې پر سر د ۷ اعشاريه ۷ ميليارده وګړو واکسينول لويه پروسه ده، چې پخوا هېڅکله نه ده تر سره شوې.

کارپوهان حکومتونو ته مشوره ورکوي چې بايد خپلو وګړو ته سپينه خبره وکړي، ځکه د نړۍ په کچه د واکسيناسيون دا بهير ښايي کلونه وخت ونيسي.

# له ښتو او بريدونو سره همماله؛

## طالبان وايي، جګړه د حل لار نه ده، امريکا دې پر هوکړه عمل وکړي



نن چهارشنبه د ناټو د غړو هېوادونو دفاع وزيران د افغانستان په اړه بحث کوي. تر دې غونډې مخکې د ناټو عمومي منشي ويلي چې ښايي سرتېري يې د شرايطو تر سمېدو پورې په افغانستان کې پاتې شي. بلخوا بيا طالبانو امريکايانو ته يو پرانيستی ليک ليکلی او په دې ليک کې يې له امريکايي حکومت غوښتي، چې له افغانستان څخه خپل سرتېري وباسي. د دوی په وينا، جګړه د حل لار نه ده او د دې وخت دی، چې امريکا د جګړې پر ځای د سولې تګلاره غوره کړي. ولسمشرۍ ماڼۍ بيا ويلي چې افغان حکومت لا هم د ناټو مرستو ته اړتيا لري او د ګډ دښمن پر وړاندې ګډه مبارزه اړينه ده.

سره له دې چې په کور د ننه د طالبانو جګړې شديدې شوې، خو دغه ډله وايي چې جګړه د حل لار نه ده او امريکايان بايد د سولې لار خپله کړي. د طالبانو د قطر دفتر مشر ملا برادر په يوه پرانيستي ليک کې له امريکايي لوري غوښتي، چې د سولې هوکړې ته ژمن پاتې شي او د دوحې له هوکړې سره سم خپل سرتېري له افغانستان وباسي. د ده په وينا، جګړه د حل لاره نه ده او يوازې د خبرو او مذاکراتو پر مټ دواړه لوري اوسنۍ جګړې ته د پای ټکی اېښودلی شي.

طالبانو همدارز له افغانستان د ټولو بهرنيو سرتېرو، نظامي سلاکارانو او روزونکو پر وتلو ټينګار کړی او وايي چې د دوحې هوکړې مطابق بايد دغه کسان تر مې مياشتې پورې له افغان خاورې ووځي. ملا برادر دغه راز ويلي، چې په تېرو ۱۹ کلونو کې د افغان جګړې په اړه د امريکا هر ډول نظامي تګلاره ناکامه وه او له همدې امله له طالبانو سره د امريکايانو جګړه د امريکا په تاريخ کې تر ټولو اوږده جګړه بلل کېږي. په دې ليک کې راغي، له همدې امله تر ټولو منطقي او عاقلانه حل لاره دا ده چې روانه جګړه د خبرو له لارې حل شي او امريکا پر نظامي انتخابونو فکر ونه کړي. د سرچينې په خبره: «په تېرو ۱۹ کلونو کې پوځي قوماندانان بدل شول، تګلارې بدلې شوې، پلانونه بدل شول، خو جګړه ختمه نه شوه. د جګړې د ختمولو يوازينۍ لار د سولې خبرې دي. امريکا يې بايد پر ژمنو عمل وکړي او د سرتېرو د ايستلو لپاره دې اقدام وکړي».


ملا برادر د يادو څرګندونو تر څنګ دا هم ويلي چې د امريکايي ځواکونو تر وتلو وروسته افغانان په خپلو کې د خبرو له لارې سره جوړېدلی شي. د ده په خبره، بين الافغاني خبرې روانې دي او دواړه لوري بريالي کېږي چې په خبرو کې يوې پايلې ته ورسېږي.

بلخوا افغان حکومت بيا وايي چې دوی په افغانستان کې په روان وضعيت کې د ناټو همکارۍ ته اړتيا لري. د ولسمشر د وياند مرستيال دوا خان مينه پال تازه په يوه مرکه کې ويلي، چې ناټو او افغانستان ته له يوه ګډ دښمن ګواښونه متوجه دي. د مينه‌پال په خبره، ناټو بايد پوه شي چې دلته د دې ګواښ پر وړاندې شريکه او ستراتېژيکه مبارزه په کار ده.

بلخوا د افغانستان د ملي مصالحې عالي شورا رييس ډاکتر عبدالله عبدالله يو ځل بيا پر طالبانو غږ کړی، چې روان تاوتريخوالی کم کړي او پر ځای يې دې د سولې خبرې چټکې کړي. د ده په خبره، امريکا ځکه د دوحې هوکړه ارزوي چې وګوري طالبانو يې پر ژمنو عمل کړی دی کنه. د ده په خبره، که طالبان په رښتيا سوله غواړي او د دې غوښتونکي وي چې د سولې هوکړه وساتل شي، نو لا هم فرصت شته او بايد د مذاکراتو مېز ته راوګرځي او تر څنګ يې دې اوسنی تاوتريخوالی پای ته ورسوي.

بلخوا د ناټو سازمان د افغانستان په اړه غونډه جوړوي. د غونډې تر جوړېدو مخکې د دغه سازمان عمومي منشي ينس ستولټنبرګ ويلی، چې په افغانستان کې به يې د شرايطو تر سمېدو پورې پوځيان حضور ولري او تر هغه به دلته وي چې شرايط برابر شوي نه وي.

# لاوروف: که اروپايي ټولنه خپل اوسنی دريځ بدل کړي، چمتو يو چې اړيکې ورسره ورغوو



د روسيې د بهرنيو چارو وزير پر اروپايي ټولنې تور لګولی، چې له مسکو سره د اړيکو ترينګلي کولو هڅه کوي، خو د نوموړي فنلنډي سيال دا تورونه رد کړي دي.

د روسيې د بهرنيو چارو وزير له خپل فنلنډي سيال سره په ليدنه کې ويلي، که مسکو له اروپايي ټولنې مثبت اقدامات ووينې، دوی چمتو دي چې له دې ټولنې سره خپلې اړيکې بېرته ورغوي.

هغه زياته کړې: «موږ بايد د هر ډول وضعيت لپاره چمتو واوسو. اوس انتخاب د اروپايي ټولنې په لاس کې دی. که وغواړي چې خپلې اړيکې ورغوي، يا د اړيکو پرې کولو په سوچ کې وي، موږ هر يوه انتخاب ته چمتو يو.»

په سنټ پېټرزبرګ کې د روسيې د دغه لوړ پوړي ډيپلومات دا څرګندونې د هغه د فنلنډي سيال پيکا هاويستو غبرګونه راپارولی دی. هغه وويل: «کله چې د اروپايي ټولنې او د روسيې فدراتيف په اړه خبره کوو، بايد تل په ياد مو وي چې فنلنډ هم د اروپايي ټولنې غړی هېواد دی.» د روسيې او اروپايي ټولنې ترمنځ کړکېچ وروسته له هغې اوج ته ورسېد، چې مسکو تور ولګاوه چې د جرمني، سويډن او پولنډ د سفارتونو او کونسلګريو دريو ډيپلوماتانو د کرېملين د سرسخت منتقد الکسي ناوالنۍ د ملاتړو په اعتراض کې برخه اخيستې او وروسته يې دغو ډيپلوماتانو ته له روسيې د وتلو امر وکړ. خو اروپايي ټولنې په هر ډول اعتراض کې د دغو دريو هېوادونو د ډيپلوماتانو د ګډون خبر رد کړی او ويلي يې دي، چې دوی خپل کارونه تعقيبول. وروسته له هغې چې دغه ډيپلوماتان د فبرورۍ پر پنځمه و ايستل شول، جرمني، سويډن او پولنډ په ګډ اقدام سره تېره دوشنبه د روسيې درې ډيپلوماتان له خپلو خاورو وايستل. د دواړو لورو اړيکې وروسته له هغې لا ترينګلې شوې، کله چې روسيې په ۲۰۱۴ز کال کې د اوکراين کرېميا ټاپووزمه له خپلې خاورې سره يوځای کړه، په تېرو اوو کلونو کې دغه اړيکې تر ټولو ټيټې سطحې ته رسېدلې دي. د اروپايي ټولنې او روسيې اړيکې وروسته له هغې لا خرابې شوې، چې اروپايي هېوادونو مسکو د اپوزيسون د مشر الکسي ناوالنۍ په مسمومولو تورن کړ.


ناوالنۍ د تېر کال د اګست مياشتې پر ۲۰مه مسموم کړای شو، چې وروسته د درملنې لپاره جرمني ته ولېږدول شو، خو په ډسمبر مياشت کې له جرمني د راستنېدو پر مهال د مسکو په يوه هوايي ډګر کې تر نيول کېدو وروسته بندي شو. اروپايي چارواکو په وار- وار ويلي، چې له بنده د ناوالنۍ خوشې کېدل غواړي. دغه راز يې پر روسيې د بنديزونو لګولو پر موضوع غور کړی دی. د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګي لاوروف په دې وروستيو کې خبرداری ورکړی و، که بروکسل پر مسکو د تازه اقتصادي بنديزونو لګول غواړي، روسيه هم چمتو ده، چې له اروپايي ټولنې خپله لاره بېله کړي.

## د کتـاب خبـري

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
کابوکي




دوراني: د سبهروال د خدمت موده تمدید کړل شوې وه؟
دولت: هو. د سبهروال موده ځکه تمدید کړل شوې وه چې له میا صېب سره یې ښې اړیکې درلودې او د کانګرس «UPA» تمه دا وه چې نواز شریف به ټاکنې وګټي. نواز شریف زموږ خوا ته پر ډېرو ګران دی.
دوراني: پوهېږم او دا هم راته معلومه ده چې ولې پرې ګران دی. له هغې ورځې چې دی واک ته راغلی، یو غږ، یو شپیلی یې تر منځ واټن و. دی یې له تاریخ نه زده کوي.
دولت: بي بي؟
دوراني: نه، د هند او پاکستان د اړیکو خبره که وي، نو د بېنظیرې طرحه نه ډېره بې خونده وه او نه ډېره توندلارې. خو که د میا صېب خبره وکړو، نو هندیانو ډېرې هڅې کړې وې دی د مودي د لوړې په مراسمو کې ګډون وکړي؛ خو وروسته یو چا فکر کړی چې په میا صېب پسې دویم کس را بلل به ښه وي. خو چې هر څه له ده سره بد چلن شوی و او ګوتڅنډنې ورته شوې وې.
مودي او اشرف غني په ډاکه او کابل کې په پاکستان پسې بد رد وویل، بیا لاهور ته راغی. که بل هر څوک وای ویل به یې چې دا څه تماشا روانه ده، خو میا صېب بیا هم ښه چلن ورسره وکړ.
تاسې خلک وایاست چې رایوند ته د مودي راتګ د ده د عظمت ښکارندویي کوله. خو داسې نه ده، تر ده میا صېب ډېره ژمنتیا وښوده. د میا صېب دې «ساده» کار ته په کتو سره ټولو خلکو ویل چې دی به په راتلونکي کې هم دغسې روان وي.
دولت: د هند له عینکو که ورته وګورو نو د پاکستان او هند د اړیکو د ښه‌والي لپاره نواز شریف تر نورو ډېر ښه و. پاکستانیان چې دې مسلې ته له کومې زاویې ګوري، زه یې ورسره نه منم. خو هو دا درسره منم، دی چې د مودي د لوړې مراسمو ته راغلی و، باید ډېر ښه چلن ورسره شوی وای.
دوراني: د میا صېب پر یکې یو کار خوښ وم، چې د اټومي تجربو اجازه یې ورکړه. ما یې له دې پرېکړې په عام محضر کې ملاتړ وکړ. ده پر ځای اقدام کړی و، زړور ګام یې اخیستی و، که څه هم کېدای شي چې دی به د اټومي وسلو یا اټومي وړتیاو پر رول خبر لا نه و. د نواز شریف دا پرېکړه یې آن لا د خپلې حلقې یا ښه ده وویل شي چې د سوداګریزې ټولنې د غوښتنو خلاف وه او د کلنټن د نهه، لس ټلیفوني اړیکو پروا یې هم و نه کړه. له همدې امله ما په عام محضر کې وستایه او په‌دې اړوند مې مقالې هم ولیکلې.
سېنها: په پاکستان کې د اوسنۍ سیاسي بې ثباتۍ په تړاو تاسې څه وایاست؟
دوراني: نه، دغسې نه ده. پر یو څو کسانو دا حال راغلی دی. څوک چې حالات له نږدې څاري، د هغوی له انده د میا صېب له تللو وروسته حالات آرام شوي دي.
د شریف کورنۍ پر خلاف په محکمه کې د دوسیو په تړاو به یو څه اندېښنې به وي، خو سوداګرو خپل فعالیتونه بیا پیل کړي دي او ډاډه معلومېږي.
د دغه نوي سړي، شاهد خاقان عباسي په تړاو زه شخصاً ډاډه نه وم، خو ورو ورو د ښه کېدو پر لور روان دی او خپله دنده په ښه شکل سره پر مخ بیایي. ټول ملګري مې وایي چې خاقان عباسي اصولو ته پابند سړی دی او له سهاره تر ماښامه یې کار ته ملا تړلې کړې وي. له نورو ادارو سره مشورې هم کوي. د ملي امنیت کمېټې چې دی یې مشري کوي، وخت ناوخت ناستې کوي. له امریکا سره اوسنۍ ترینګلې اړیکې چې څنګه دې پالي، د ستایلو وړ دي. د ملګرو ملتونو په کلنۍ غونډه کې یې ښه وینا وکړه. له «ایشیا سوسایټي» سره یې مرکه کړې وه، په مرکه کې یې ښې خبرې کړې وې.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ټیلرسن پاکستان ته راغلی، خو د دې موقع یې په لاس ور نه‌غله چې له سیاستوالو او پوځ سره جلا جلا وګوري. پوځ او سیاستوالو ورسره په ګډه کتلي وو، ټیلرسن ته یې یو پیغام ورساوه؛ موږ نه په دفاعي حالت کې یو او نه د چا پښو ته غورځېږو، موږ چې هر څه کوو، د خپل هېواد لپاره یې کوو.
سېنها: داسې خو نه ده چې خاقان عباسي مکمل د پوځ کس دی او سیاستوال ښخی نه‌دی؟
دوراني: دی ښځې د پوځ کس نه دی. مشرف پر همدې خوابدی و چې آخر شاهد عباسي خو د یوه پخواني پوځي زوی دی. د ده پلار خاقان عباسي د سمندري ځواکونو یو جګپوړی قوماندان و. د مشرف کسانو له نواز شریف نه د ده د را بېلولو هڅه وکړه، خو دی د خپل ګوند مشر ته وفاداره پاتې شو. د زندان تګ ته یې غاړه کېښوده، خو د پوځ ډول ته یې څنې و نه‌غورځولې. که شخصاً خپله خبره وکړم، نو وخت داسې و چې زه چېرته تللی یم او دی هم هلته وي، نو زما درناوی یې کړی دی. زه چې له پوځ تللی وم او میا صېب چې له پوځ سره ښکرونه اړم کړي وو، عباسي له ما سره له کتلو ډډه کوله. پر دې هر څه سربېره، زه وایم چې هغه خپل مسئولیت په ښه بڼه ترسره کوي.
**دوام لري...**

# الله تعالی ته لار

اکسوس کتابپلورنځی




د کتاب ژباړن وایي: «فرض کړئ یو داسې څوک چې له ماشومتوبه له طبابت سره ډېره مینه لري او غواړي د زړه ډاکټر شي، له هماغې مودې د زړه له ډاکټرانو سره شاګردي پیل کړي، له دوی سره ډېره مینه لري، شپه او ورځ له همدوی سره ګرځي او غواړي هره شېبه ترې زده کړه وکړي. بیا ځوانېږي، په همدې برخه کې لوړې زده کړې کوي او د دنیا له سترو قلبي ډاکټرانو سره شاګردي کوي، د هغوی تجربې تر لاسه کوي او نږدې شاګرد یې شي. د دوکتورا تر کچې په همدغه تخصص کې زده کړې کوي او وروسته د قلبي امراضو نړیوال مرکز جوړوي او د سلګونو او زرګونو انسانانو د زړونو بریالۍ درملنه کوي. په دغه برخه کې ډېر تحقیقات کوي، په سلګونه کتابونه او مقالې پکې لیکي او په لکونو کتابونه یې خرڅېږي.
څه فکر کوئ؟ د دغه ډاکټر د ژوند او تجربو کتاب به په طبابت کې څومره مهم وي؟ څومره اعتبار او ارزښت به لري؟
ښکاره خبره ده چې د داسې یوه انسان کتاب به ډېر ګټور وي او هر څوک به یې د لوستو علاقه‌مند وي. په تصوف او د انسانانو د قلبونو اصلاح کې د مولانا حافظ ذوالفقار احمد نقشبندي مجددي حیثیت بالکل داسې دی، لکه پورته چې د قلبي ډاکټر یادونه وشوه. هغه له ماشومتوبه له دغه مسلک سره ډېره مینه لرله. که څه هم هغه په یوه داسې کورنۍ کې زېږېدلی دی، چې عصري علوم یې لوستي، خو د ده علاقه‌مندي او ذوق له ماشومتوب څخه له دیني او تصوفي علومو سره و.
دغه کتاب چې ستاسې لاسونو کې دی، خدای ته د لار موندلو یو عملي لارښود دی. دغه لارښود کې له قرآن څخه ګټه پورته شوې، له نبوي احادیثو څخه استفاده شوې او د الله تعالی د اولیاوو له مجربو نسخو او تجربو څخه استفاده شوې ده. څوک چې غواړي چې الله ته لار پیدا کړي، دغه کتاب یې تر ټولو بهتر، اسان او عملي لارښود دی.
د کتاب ژباړې ته مې هغه وخت اراده وکړه، چې زما کشر ورور، فیصل جلالي، دغه کتاب راته له اسلام آباد څخه راوړ. هغه ما ته په لسګونو کتابونه راوړي وو، خو دغه کتاب تر ټولو زما توجه ډېره جلب کړه، ما کتاب ولوست، لا ډېر مې خوښ شو او فکر مې وکړ چې که یې وژباړم، ډېر لار ورکي او د حق پلټونکي به ترې ګټه پورته کړي.»
د دغه کتاب لوستل د هغه چا لپاره ډېر ضروري دي، چې بې ځایه اندېښنو او وسوسو په سر اخیستي وي، بې دلیله یې زړه پتنګ وي، سره له دې چې الله تعالی ښه ژوند ورکړی وي، ښه کورنۍ، ښه اولادونه، ښه موقف، ښه مېرمن لري؛ خو بیا هم دی خپه دی، ځورېږي، دا دنیا ورته تنګه او بدرنګه ده، نه پوهېږي چې ولې او څه ته خپه دی.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو په مناسب قیمت تر لاسه کړي.



| روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
| ۱ | په اسلام کې د فقر درملنه | یوسف قرضاوي/ عمران لمر | ۱۸۰ؑ |
| ۲ | نوی الحاد په رنګینه بڼه | مراد یوسفي/ عزیزالله شهباز | ۲۳۰ؑ |
| ۳ | په ژوند کې یو ښه سړی نشته | انند ګوپال/حزب الله اتل | ۲۵۰ؑ |
| ٤ | په دښتو کې جنتونه (ناول) | نعمان دوست | ۱۰۰ؑ |
| ۵ | صفر تر یو | پیترتېل او بلېک ماسټر/فرید مهرووال | ۱۰۰ؑ |
| ٦ | (د ترکستان شپې (ناول | نجیب الکیلاني/حفیظ الله همیم | ۱۳۰ؑ |
| ۷ | همینګوې څه وایي | عصمت څاروان | ۱۰۰ؑ |
| ۸ | ژوند ته دې شفاء ورکړه | لویس. ایل. هې/صالح محمد صالح | ۱۵۰ؑ |
| ۹ | هغه ماشوم ته لیک چې هېڅکله ونه زیږېد | اوریانا فلاچي/شبانه دوران | ۱۰۰ؑ |
| ۱۰ | که نړۍ بدلوئ! | ویلیم ایچ مکریون/میراحمد یاد | ۸۰ؑ |
| ۱۱ | د ژمي مازدیګر | هیله پسرلی | ۸۰ؑ |
| ۱۲ | پیلبو لنډې (کیسې) | اجمل پسرلی | ۱۰۰ؑ |
| ۱۳ | د جنت ملکه | عابده سپوږمۍ | ٦۰ؑ |
| ۱٤ | توره نجلۍ ناول | ارین جلال | ۷۰ؑ |
| ۱۵ | د کرنیز اقتصاد او کروندې مدیریتي اساسات | ډېوېډ کاهان/حسین ګل اریوبي | ۱۰۰ؑ |
| ۱٦ | ابدي ژوندون | عبدالغني میوندي | ۱۸۰ؑ |
| ۱۷ | امبریولوژی طبی | محمدفرید برنایار | ۲۵۰ؑ |
| ۱۸ | طبابت از دیدگاه اسلام | اونیبا صیقل | ۱۲۰ؑ |
| ۱۹ | فزیولوژی طبی | محمدناصر فروتن | ۳۸۰ؑ |
| ۲۰ | هستالوژی | بری صدیقی | ۲۲۰ؑ |
| ۲۱ | ستیشن های برق آبی | محمدامام‌عالمی | ۵۰۰ؑ |
| ۲۲ | بیوفزیک | شیرمحمد کریم، خان محمد ابراهیمی و پشتنه بنائی احمدزی | ۲۵۰ؑ |
| ۲۳ | اساسات اناتومی جلد اول | دیپارتمنت اناتومی پوهنتون طبی کابل | ۳۸۰ؑ |
| ۲٤ | ما وې لرې رانه مه ځه! | حفیظ همیم جلالزی | ۳۵۰ؑ |
| ۲۵ | مدیریت ریسک پروژه | حسین راد مهر، امیرحسن محبی | ٤۵۰ؑ |
| ۲٦ | پښتون افغان افغانستان | محمدحسن کاکړ | ۱۲۰ؑ |
| ۲۷ | قانون قدرت | رابرت ګرین/فاطمه باغستانی | ۵۰۰ؑ |
| ۲۸ | افغانستان مردم تاریخ و سیاست | نوراحمد خالدی | ۳۰۰ؑ |
| ۲۹ | د ژوند مهارتونه | ارنولډ لازاروس او کلیفورډ لازاروس/حمیدالله حمیدي | ۱۸۰ؑ |
| ۳۰ | الله تعالی ته لار | ذوالفقاراحمد نقشبندي مجددي/ زاهد جلالي | ۲۰۰ؑ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷.۴۰ |
| € | ۹۳.۸۰ |
| Rp. | ۴۸۵ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۶.۹ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# تاسې د خپل ځان رییس یاست

ژباړه: امان الله حنیفي

بریالي کسان د خپلو مهمو کارونو د تر سره کولو لپاره د نظم او ترتیب په رعایت کولو سره سخت پابند دي او هغوی ځان تنظموونکي کسان دي. هغوی نه یوازې د دې کار لپاره چې دوی یې تمه لري، بلکې د هغه کار لپاره چې ښه ده تر سره یې کړي هم ځان تشویقوي. همدا تګلاره ده چې هغوی یې له متوسط، ښه او له ښه، ډېر ښه ته رسولي دي. همدا دلیل دی چې د دې دنیا مزد هغو کسانو ته ورکول کېږي، چې هغوی کوښښ کوي هغه کارونه تر سره کړي چې نور یې د تر سره کولو لپاره هېڅ لېوالتیا نه ښیي.

«زما په نظر، نظم او ترتیب یانې د هغو کارونو تر سره کولو ته ژمن پاتې کېدل، چې موږ یې باید تر سره کړو.»

مارک تېرل وایي: «کلونه کېږي چې پوه شوی یم، ځان تنظموونه یو نامرئي جادو دی. تاسې نه شی کولای چې هغه ووینی، لمس یې کړی او یا یې هم بوی حس کړی؛ خو د هغه اغېز بیا بیخي زیات دی. ځان تنظیمونه کولای شي چاغوالی پر ډنګروالي، خموالی پر راسته والي، بې خبري پر تخصص، فقر پر شتمنۍ او بدبختي پر خوشالۍ بدله کړي.»

ټول د نورو بریاوې ویني، خو دې ته بیا ۹۰ په سلو کې توجه نه کوي چې هغه څه نه ویني، چې د دې بریا لامل شوي او په اصل کې هماغه څه ۹۰ سلنه د دې بریا لامل شوي دي. په همدې دلیل کله چې خلک ورزشي اتلان او هنرمندان ګوري، له ځان سره فکر کوي چې ای کاش ما هم دا اتلولي خپله کړې وی. په داسې حال کې چې د دې پر ځای ښه ده چې ووایي: ای کاش زه هم د هغوی په شان بانظمه او ډیسپلینه وای.

### څنګه مو د منظم اوسېدو وړتیا پیاوړې کړو؟

تېرل وایي: «ډېری خلک ژوند لکه د یوې کوټې په څېر داسې ویني، زه هم داسې تصور کوم چې هغوی په حقه دي. خلک ځای‌پرځای کېني او دې ته په تمه وي چې نور یې نومونه واخلي؛ خو داسې نه ده او نه به هېڅ وخت داسې وشي چې بریا د په موږ پسې تاو شي او موږ نه شو کولای چې په اتفاقي ډول یو لوی څه لاس ته راوړو. دا په یاد لرئ چې د هر ارزښتمن شیز په لاس راوړل ډېر زحمت غواړي.»

د خپلو غوښتنو تر لاسه کول پرله‌پسې هڅو، وخت، انرژۍ او کلکې ژمنې ته اړتیا لري. ځان تنظیمونه دا هرڅه ممکن کوي او تاسې تر بریا رسوي او تر ټولو ښه خبره دا ده چې ځان تنظیمونه هغه څه دي چې تاسې کولای شی هغه لا پیاوړې کړی او دا هم مهمه نه ده چې تاسې د ذاتاً له دې وړتیا سره دنیا ته راغلي وی.

دا چې تاسې له دې سره مینه لری، څو مو د خپل نظم او ترتیب قدرت د پیاوړتیا شاهدان و اوسی، ښه ده چې لاندې سپارښتنې په ښه ډول عملي کړئ:

### ۱- په دې پوه شئ چې کوم څیزونه مهم دي

زه په دبیرستان کې یو ښه زده کوونکی نه وم، یوازې دا مې غوښتل چې د خپلوانو کره لاړ شم او له هغوی سره باسکیټبال وکړم. زما په څېر نورو ټنبلو زده کوونکو ځینو نورو ته دا فرصت په لاس ورکړی چې هغوی په ټولګي په ښو نمرو مخکې راشي. په هر صورت، کله چې بیا ښوونځي ته لاړم، هرڅه بدلون وکړ. لومړی پر یوه منظم زده کوونکي بدل شوم، چې په دې سره مې د ښوونځي د مدیر توجه راجلب کړه. څه رامنځ ته شول؟ له هغې لحظې چې ښوونځي ته داخل شوم، پوه شوم چې د هغه څه تر سره کولو لپاره چې زه یې په ژوند کې تر سره کول غواړم، باید ځان چمتو کړم. ما یو هدف درلود او پوهېدم چې د څه څه لاسته راوړل ما ته اهمیت لري. نور مې بې هدفه پوښتنې نه کولې، په ټولګي کې مې د منظم فعالیت او مطالعې کولو عادت په ځان کې پیاوړی کړ، له لایقو زده کوونکو سره مې اړیکې پیدا کړې او پر خپل راتلونکي مې تمرکز زیات کړ. هرڅه بدلون وکړ او د ځان په منظموالي مې شروع وکړه.

په دې اخرو کې مې د براین ټریسي مقاله لوسته، هغه لیکلي وو: «په سلو کې ۹۷ سلنه امریکایان هڅه کوي چې له روښانه هدفونو پرته، ځانګړې او ایډیال ژوند وکړي. هغه دغه غوښتنه یو نالیدلي هېواد ته د لارې له نقشې پرته له سفر کولو سره تشبیه کوي. دا یوه جالبه مقایسه ده. که غواړو چې هغه هېواد ته لاړ شو، باید لومړی هغه وپېژنو او بیا د لارې نقشې له مخې خپل سفر پیل کړو.»

### ۲- نور بهانې لټول پرېږدئ

که نظم او ترتیب هسې وپېژنو چې موږ به په ژوند کې مطلوب ځای ته ورسوي، نور به بهانې لټول پرېږدو او باوري به شو چې دغه هدف ته د رسېدو لپاره څومره ډېرې لارې چارې شته. دلته درته د ځینو هغو بهانو بېلګې راوړو، چې ممکن څو څو ځلې تاسې هم کړې وي:

- له نوي کال وروسته یې پیلوم؛
- نه غواړم چې په یوازې ځان دا کار تر سره کړم؛
- د ژوند ملګری به مې ملتیا ونه کړي؛
- کله مې چې ښوونځی خلاص شي، دا کار کوم؛
- کله چې د ماشومانو ښوونځی شروع شي، دا کار بیا کوم؛
- کله مې چې ډېره انرژي لرله بیا دا کار کوم؛
- کله چې هوا ښه شوه بیا یې شروع کوم؛
- کله چې یوڅه وزګار شوم بیا به ګورم؛
- سبا دا کار کوم؛
- کله چې سپین ږیری شوم بیا دا کار کوم؛
- وزن مې ډېر زیات دی، کله مې چې وزن کم شو بیا دا کار کوم؛
- زما عمر تېر دی؛
- زه ډېر بې تجربې یم؛
- ډېر ستړی یم؛
- نه پوهېږم څنګه یې پیل کړم.

ما دا ټولې بهانې کړې دي، خو په یوه یې هم افتخار نه کوم. که تاسې هم دا او یا دې ته ورته بهانې کوی، هیله ده نور یې پرېږدئ.

### ۳- د خپلې خوښې وړ کار وروسته سرته رسولو ته په تمه مه پاتې کېږئ

که په ګوګل کې د بریا رازونه ولټی، په یوه ثانیه کې به تقریباً ٦٧ میلیونه لارې چارې ستاسې مخ ته راشي. بېلابېلو کسانو د تلپاتې بریا په اړه لیکل کړي دي. لنډه دا چې ویلی شم د بریا پر رازونو پوهېدل کوم ستونزمن کار نه دی، خو ستونزمن کار بیا پر هغه عمل کول دي.

د بریا په تر لاسه کولو کې زموږ فرهنګ چندانې مرسته نه شي کولای، هغه مشهوره خبره چې څو څو وارې مې اورېدلې ده، دا ده چې وایي، پر هغه څه عمل وکړئ چې ستاسې احساس یې د تر سره کولو امر درته کوي؛ خو که دې مینې لرلو احساس ونه کړو، بیا څه؟ ایا الهام ته باید منتظر و اوسو؟ هر باتجربه لیکوال کې تاسې وپوښتی درته وایي، کله چې له یوڅه سره مینه لری او یا د هغه په اړه کوم احساس نه لری، هماغه وخت یې په اړه لیکل وکړئ.

هرڅوک په یوه یا څو برخو کې کمزوری وي او بیا په هماغه برخو کې نظم او ترتیب رعایتول ورته یوڅه ستونزمن وي. زما په اړه، ښه غذایي رژیم او ورزش کول هغه موارد وو چې زه یې په رعایت کې کمزوری وم. نو څنګه کولای شم مخکې له دې چې له یوڅه سره مینه ولرم، د هغه لپاره لاس پکار شم؟

- د عمل نه کولو پایلو په اړه باید فکر وکړم
- د کار په ښه ډول تر سره کولو لپاره یوازې په نن ورځ تمرکز وکړم
- په کمزورو نقطو د کار کولو مسوولیت ومنم او له نورو سره مرسته وکړم.

ما هېڅوک داسې نه دي لیدلي چې دوی دې فردي نظم ولري او بیا یې دې هم حواس ډېر وخت تیت او پرک وي. بریالي انسانان خپل وخت کټه‌ګوري کوي. هغوی پوهېږي چې څنګه خپل وخت مدیریت کړي او دې پایلې ته رسېدلي چې د ژوند هره دقیقه یې څومره ارزښت لري.

## ستولټنبرګ: زموږ لومړیتوب دا دی چې افغانستان بیا د ترهګرو پر ځاله بدل نه شي

د ناټو سرمنشي ینس ستولټنبرګ وایي، د دغه تړون لپاره لومړیتوب دا دی، چې افغانستان بیا د ترهګرو پر ځاله بدل نه شي.

ستولټنبرګ د ناټو د دفاع وزیرانو د دوې ورځنۍ غونډې په درشل کې په هغه کنفرانس کې چې په انلاین بڼه و، وویل: «زموږ لومړیتوب دا دی چې افغانستان بیا د نړیوالو تروهګرو په ځاله بدل نه شي. دا له هغې ورځې زموږ لومړیتوب دی چې نږدې ۲۰ کاله مخکې افغانستان ته لاړو. نه یوازې افغانانو، بلکې په خپله د ناټو غړو هېوادونو او د هغوی امنیت ته هم مهم دی. د سپټمبر د یوولسمې حمله په افغانستان کې د ناټو د ماموریت سبب شوه. زموږ لومړیتوب چې افغانستان بیا د نړیوالو تروریستانو په خوندي مرکز بدل نه شي، پرځای پاتې دی.»

دا په داسې حال کې ده چې د ناټو دفاع وزیران نن او سبا په بروکسل کې د افغانستان په اړه ناسته لري. د ناټو سرمنشي وایي، ناټو د سولې د پروسې د یوې برخې په توګه په افغانستان کې خپل حضور کم کړی، خو زیات تمرکز یې پر دې کړی، چې د افغانستان خپل امنیتي او دفاعي ځواکونه په پښو ودرول شي.

ستولټنبرګ افغان ځواکونه د تروریزم پر وړاندې په جګړه کې اغېزناک وبلل. هغه زیاته کړې: «د تروریزم پر وړاندې د مبارزې لپاره مو تر ټولو ښه وسله د محلي ځواکونو روزل او ظرفیت لوړول دي. څومره چې افغانانو ته دا وړتیا ورکوو، چې په خپله د تروریزم پر وړاندې وجنګېږي او خپل هېواد باثباته کړي، هغومره هم د افغانانو او هم د ناټو متحدانو په ګټه تمامېږي؛ ځکه موږ په تدریجي ډول د خپلو ځواکونو کمول پیل کړي. تېر کال د دې لپاره چې د سولې پروسې یوه برخه یو، خپل حضور مو نور هم کم کړ.»

د ناټو سرمنشي وویل، چې په افغانستان کې یې د ځواکونو شمېر شاوخوا لسو زرو ته رسېږي، په داسې حال کې چې کلونه مخکې شاوخوا یولک او ۳۰ زره نړیوال پوځیان په جنګي ماموریت کې دخیل وو.

## مالیې وزارت: د ښوونکو او ټیټ رتبه دولتي مامورینو په معاشونو کې د پام وړ زیاتوالی راځي

د مالیې وزارت سرپرست محمد خالد پاینده وایي، په ۱۴۰۰ مالي کال کې به د ښوونکو او ټیټ رتبه دولتي مامورینو په معاشونو کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

نوموړي پر خپل ټویټر لیکلي، چې د یادو معاشونو د زیاتوالي لپاره د داخلي سلاکارانو شمېر او معاشونه ارزول کېږي، چې په خبره یې، شمېر به یې هم کم شي.

د مالیې وزارت سرپرست همدارنګه زیاته کړې، چې د ښوونکو او ټیټ رتبه دولتي مامورینو د معاشونو زیاتوالي لپاره به د ولسمشر، د هغه مرستیالانو او کابینې د نورو غړو معاشونه او مصارف هم راکم شي.

نوموړي زیاته کړې: «همداراز په پام کې ده د جمهور رییس، د جمهور رییس د مرستیالانو او د کابینې د غړو تنخواوې (او نور لوی مصارف) راکم شي، څو د معلمینو او مامورین په معاشونو کې لازمه اندازه زیاتوالی راشي.»

خو هغه د یادو لوړپوړو چارواکو د معاشونو او مصارفو د اندازې په اړه معلومات نه دي ورکړي. مالیې وزارت وروسته تر هغې یاد خبر ورکوي، چې د افغانستان ولسي جرګې یو شمېر غړو د ۱۴۰۰ مالي کال په بودجه کې د ښوونکو او ټیټ رتبه دولتي مامورینو د معاشاتو د لوړېدو غوښتنه وکړه.

ولسي جرګې تر دې مهاله د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې طرحه هم د دې او ځینو نورو لاملونو له امله دوه ځله رد کړې ده.

وروسته تر هغې مالیې وزارت تېره میاشت وویل چې د ولسمشر غني د هدایت په اساس یوه ګډه تخنیکي کمېټه د دولتي مامورینو د معاشونو لوړولو په اړه څېړنه کوي. مالیې وزارت د روانې فبروري میاشتې په لومړیو کې د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې طرحه درېیم ځل د تایید لپاره ولسي جرګې ته ولېږله.

د ولسمشر د ویاند مرستیال دواخان مینه پال هغه مهال وویل چې تمه ده ولسي جرګه د نوي مالي کال د بودجې درېیمه مسوده تصویب کړي. هغه په دې اړه پر خپل ټویټر لیکلي وو: «د کابینې مجلس د۱۴۰۰ مالي کال د ملي بودجې درېیمه مسوده له تغییراتو او وړاندیزونو سره پاس کړه، له ملي شورا مو هیله دا ده چې درېیمه مسوده بودجې تصویب کړي.»

ویل کېږي چې ولسي جرګه د بودجې پر طرحې بحثونه کوي، خو تر دې مهاله یې نه رد او نه هم تایید کړې ده. بلخوا ویل کېږي، چې د ۱۴۰۰ کال بودجې د طرحې نه تصویبېدو له امله د زرګونو دولتي مامورینو او چارواکو معاشونه هم ځنډېدلي دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۹مه | د ۲۰۲۱ د فبرورې ۱۷مه | ٦٨٢یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ۲٦ | ۱۹ | ۲٤ | ۲۵ | ۱٦ |
| ۰ | ۸ | ۸ | ۱۱ | ۸ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۳ | لمر ختل ۰٦:۳۷ | ماسپښين ۱۲:۰۸ | مازيګر ۰۳:۵۹ | ماښام ۰۵:۳۸ | ماخوستن ۰۷:۰۳

## نړۍ



لاوروف: که اروپايي ټولنه خپل اوسنی دريځ بدل کړي، چمتو يو چې اړيکې ورسره ورغوو

۳

## ایران: که د تړون ټول اړخونه پر ژمنو عمل ونه کړي، له اټومي پروګرام څار ته اجازه نه ورکوو



ایران وایي، که د ۲۰۱۵ز کال په تړون کې ټول شامل اړخونه د دغه تړون په اساس پر خپلو مکلفیتونو عمل ونه کړي، نو د اټومي انرژۍ د نړیوالې ادارې څېړونکو ته به د خپلو اټومي بټیو د پلټنې اجازه ورنه کړي.

د هغې لایحې له مخې، چې د ایران پارلمان تېر کال تصویب کړه، حکومت مکلف دی، چې په ښکاره اټومي بټیو کې د دې ادارې پر پلټنو تر هغه وخته محدودیت ولګوي، چې په اټومي تړون کې ټول شامل اړخونه د تړون پر موادو عمل وکړي.

د اټومي انرژۍ په نړیواله اداره کې د ایران استازي کاظم غریب آبادي ویلي، تهران دې ادارې ته یې د خپل پلان په اړه خبر ورکړی دی.

خو په ورته وخت کې د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعیدخطیب زاده ویلي، د ایران د دې اقدام مانا دا نه ده چې د IAEA د ټولو پلټنو مخنیوی کېږي.

د ایران او د نړۍ د قدرتونو ترمنځ د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون وروسته له هغې ناندریز شو، کله چې د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ز کال کې په یو اړخیزه توګه متحده ایالتونه له دغه تړون څخه و ایستل او پر دغه هېواد یې بېرته بندیزونه ولګول.

## راپورونه: په کانګو کې د بېړۍ د ډوبېدو په پېښه کې ٦۰ کسان مړه شوي

د کانګو د ډیموکراتیک جمهوریت چارواکي وایي، چې د کانګو په سمندر کې د یوې بېړۍ د ډوبېدو له کبله ٦۰ تنه مړه شوي او شاوخوا ۲۰۰ نور ورک دي.

د یاد هېواد د بشري چارو وزیر ستیف امبېکای ویلي، چې په دې بېړۍ کې له اندازې زیات مسافر او مالونه بار شوي وو چې له همدې کبله ډوبه شوې او یاده مرګ ژوبله یې اړولې ده.

نوموړي دغه راز وویل چې پر ټولو هغو کسانو باید بندیز ولګول شي، چې د دغه کار مسوول بلل کېږي. نوموړي دا هم ویلي، چې په سمندر کې د شپې ګرځې هم ښایي د بېړۍ د چپه کېدو لامل وي، خو هغه زیاته کړې چې د پېښې د اصلي علت د موندلو په موخه یې پلټنې پیل کړې دي.

امبېکای پر خپل ټویټر لیکلي، چې د دې پېښې پرمهال ۳۰۰ کسان ژغورل شوي هم دي. د یاد هېواد د چارواکو په وینا، دغه بېړۍ له مرکز کېنشاسا څخه امباندکا ته روانه وه، چې ډوبه شوې ده. د کانګو په ډیموکراتیک جمهوریت کې وخت ناوخته دا ډل بېړۍ چپه کېږي او ډوبېږي. چارواکي وایي، چې ډېری مهال مسافر د ژغورنې واسکټونه نه اغوندي او د بېړۍ له چپه کېدو وروسته یې ژغورل ستونزمن شي.

## قاضی‌زاده: بیشتر از یک هزار موتر در نتیجهٔ آتش سوزی در بندر اسلام قلعه سوخته‌اند



یونس قاضی‌زاده، رئیس اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری می‌گوید که بیشتر از یک هزار موتر در نتیجهٔ آتش سوزی در بندر اسلام قلعه در ولایت هرات، سوخته‌اند.

او افزود که بررسی‌ها ادامه دارند و احتمال می‌رود که این آمارها افزایش یابند. در همین حال، یک منبع می‌گوید که یافته‌های هیئت موظف بررسی رویداد اسلام‌قلعه نشان می‌دهند که تاکنون ۹۰۲ موتر در آتش‌سوزی در این بندر، سوخته‌اند.

بر بنیاد این یافته‌ها، احتمال افزایش آمار وجود دارد چون خیلی از موترهای سوخته شده هنوز، شمارش نشده‌اند. این آتش سوزی چهار روز پیش در گمرک بندر اسلام‌قلعه رخ داد.


دو روز پیش، صدها تن از موتر داران و بازرگانانی که موترها و کالاهای شان در این آتش‌سوزی از بین رفته‌اند، خواهان جبران خساره از سوی حکومت شدند.

این افراد می‌گویند که فساد و ضعف مدیریت در گمرک باعث آتش‌سوزی شده‌است. خلیل‌احمد، یک رانندهٔ متضرر گفت: «دولت باید خساره مردم را بدهد. این موترها به مفت به‌دست نیامده بودند که به‌مفت بروند. این‌ها از پول دزدی به‌دست نیامده‌اند. عمر خودرا زحمت کشیدیم و این موترها را خریدیم. یک موتر از برادرم، یک موتر از پسرم و یک موتر برادر زاده‌ام سوخته‌است.»

عبدالقادر، رانندهٔ متضرر دیگر نیز گفت: «عرض ما را به مقام‌های بالا و رییس‌جمهور برساند و برای جبران خساره بپردازد. برای ما هیچ چیزی نمانده‌است و یا حکومت مارا کمک کند و یا ما را بکشد.»

## ژوند

## ریالمي ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل معرفي کړ



ریالمي کمپنۍ چې د غوره ځانګړنو او ارزان بیه لرونکو ځیرکو موبایلونو وړاندې کولو کې مشهوره ده، د نړۍ تر ټولو ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل یې تازه معرفي کړی دی. دغه موبایل چې ریالمي وي۱۱ ۵جي نومول شوی، اوسمهال په چین کې خرڅلاو ته وړاندې شوی دی. ریالمي وي۱۱ ۵جي کې ٦٫۵ انچه اېچ ډي پلس ډوله مخپاڼه ورکړل شوې ده.

دغه ځیرک موبایل کې د مېډیاټېک کمپنۍ ډېمنېسټي ۷۰۰ ډوله پروسېسر کارول شوی او ۴ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا سره خرڅلاو ته وړاندې شوی. دغه موبایل ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې ۱۸ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې دوې کامرې لري چې ۱۳ مېګاپکسله اصلي کامره او ۲ مېګاپکسله ډېپث سېنسر پکې شامله ده. مخکینۍ برخه کې ۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۱۱۹۹ چېنایي یوان چې تقریباً ۱۴۵۰۰ افغانۍ کېږي، ټاکل شوې ده.

## د خوب ګولیو ناوړه اغېزې



روغتیايي کارپوهان او څېړونکي وایي، په ټوله نړۍ کې په لکونو هغه انسانان چې د خوب ګولۍ استعمالوي، د سرطان او تومور په څېر پر وژونکو ناروغیو اخته کېږي. د دې څېړنې پر بنسټ چې د انګلستان، فنلینډ او ناروې روغتیايي کارپوهانو په وسیله تر سره شوې، د خوب ګولۍ د انسان پر روغتیا منفي اثر کوي او په بدن کې د مختلفو ناروغیو میکروبونه ژوندي کوي. څېړنې ثابته کړې، د خوب ګولۍ په بدن کې د سرطان تولیدوونکي حجرات خپروي. د روغتیايي څېړونکو په خبره، د ۳۰۰۰۰ خوب ګولۍ استعمالوونکو کسانو له څېړلو وروسته معلومه شوه، چې د خوب ګولۍ انسان د خولې، پوزې، ساه اخیستو مرۍ او سږو پر سرطان اخته کوي. د څېړونکو په خبره، هغه کسان چې په زیاته اندازه او د اوږدې مودې لپاره د خوب ګولۍ استعمالوي، د هغوی د بدن دفاعي سیسټم کمزوری کېږي او ډېر ژر پر مختلفو ناروغیو اخته کېږي. هغه کسان چې په دوامداره توګه په اونۍ کې دوه ځلې د خوب ګولۍ استعمالوي، په هغوی کې پر سرطان د اخته کېدو خطر نسبت عامو خلکو ته ۲.۵ سلنه زیات وي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

